اخترمحمد یوسفی

۲۰۲۰/۰۹/۰۷

# د بین الافغانی مذاکراتو څخه تمه ؟

**د طالبانو د ډلی سره د افغان حکومت د روغی جوړی د اوسنیو خبرو پړاو د بهرنیانو د غوښتنی او فشار دپاره دی، نه د ملی سراسری سولی او د عدالت د راوستلو لپاره!**

د ربښتنی سولی او د روغی جوړی د کړن لارو او ګډونوالو تر منځ ډیر لوی توپیر او واټن وجود لری. موږ په دی لنډه لیکنی کښی د ربښتنی، دوامداره او عادلانه سولی او د ډلو د روغی جوړی ترمنځ د توپیرونو پر مهمو ټکو باندی رڼا اچوؤ. دا چی د افغان حکومت او د طالبانو اوسنی خبرو ته د افغانستان د جمهور رئیس ډاکتر اشرف غنی او نور د «جهادی» ډلو د حکومت مشران او د طالبانو او دهغوی کورنی او بهرنی پلویان له خوا د افغانستان او نړی د خلکو د غولولو د پاره، دی مذاکراتو ته د سولی د مذاکراتو نوم ورکړیدی، کاملاً غلط دی. د افغانستان د جمهوری ریاست پخوانی نوماند بناغلی رحمت الله نبیل چی هم ورته انحصاری «سوله» ویلی ده غلطه ده. رحمت الله نبیل چی په پاکستان کښی یی خپلی زده کړی کړیدی، او دوه واره د افغانستان د امنیتی چارو رئیس ؤ، باید ځان په دی خبره پوه کړی، چی د افغان حکومت او د طالبانو ترمنځ د مذاکراتو اوسنی خبری د سولی خبری نه ، بلکی د طالبانو او افغان «حکومت» تر منځ د روغی جوړی خبری دی.

**د طالبانو سره د افغان حکومت د استازو د روغی جوړی اوسنی خبری ربښتنی سوله نشی راوستلای .**





سوله هغه پراخ ملی، سیاسی او ټولنیز بهیر دی کوم چی د هغه په واسطه د یو هیواد ټول وګړی بی له ویری او توپیر څخه په آزاده توګه خپل ژوند او کارو او بار په برابر ډول پر مخ وړلای شی. ربښتنی سوله د خلکو د باوری استازو د منځګړیتوب په واسط منځ ته راځی. د سولی د خبرو استازی باید د جګړی د دواړو خواؤ د منلو وړ استازی وی، تر ټولو لومړی باید د جګړی دواړی خواوی رسماً اوربند او د خبرو ګډه اجندا اعلان کړی، د سولی د څارنی لپاره ملی او نړیوال بیطرفه څارونکی ولری، د بهرنیانو له لاس وهنیبه کی نه وی، د کورنی سیاسی ډلو او حکومت د مداخلی څخه پرته د اساسی قانون په چوکاټ کښی پریکړی وکړی. د راتلونکی سولی د دوام او باوری ساتنی لپاره باید هر اړخیز خلانده تظمینونه ولری، نو د ربښتنی سولی او عدالت د پلی کولو د بریالیتوب امکان شته.

روغه جوړه د یو او یا د څو مخالفو ډلو تر منځ د اختلافاتو د لری کولو لپاره منځ ته راځی، چی د خبرو اصلی برخه او هدف یی د حکومت سره د واک ویش او د ډلو او حکومت تر منځ د خاصو غوښتنو د لاس ته راوړنو لپاره یو له بله سره خبری کوی، د دی خبرو پایلی به دا وی که چیری دواړی خواوی د خاصو غوښتنو د منلو په صورت کښی هوکړه کوی چی دوی به نور یو د بله سره جګړه نه کوی روغه جوړه ده. په روغه جوړه کښی یواځی محدود ډلی او حکومت د استازو تر منځ د خپلو خاصو غوښتنو او اختلافاتو په هکله په خپل منځ کښی پریکړی کوی. په روغه جوړه کښی دا تظمین وجود نه لری چی د محدودو ډلو او حکومتونو پریکړي به د ملی سولی او عدالت پړاؤ ته حتمی ورسیږی. دا باید

له هیره و نه باسو چې د طالبانو د روغې جوړې خبرې او د افغان حکومت سره د ملي سولې د کړن لارې څخه ډیر توپیر لري، دغو خبرو ته ملي سوله ویل درست نه دي.

**د رښتني او عادلانه ملي سولې او د روغې جوړې د خبرو ترمنځ څو مهم توپیرونه دا دي.**

- د رښتني او عادلانه ملي سولې د پیل څخه د مخه دواړه خواوې یو د بل پر ضد د تبلیغاتو بندول دي، مګر اوس د طالبانو او د افغان «دولت» د دواړو غاړو د تبليغاتو ماشین د یو بل پر ضد چالان دي.





- د رښتني او عادلانه ملي سولې په لړ کښې د دواړو لورو لخوا څخه د سولې مخکنې شرطونه نشته. د افغان «دولت» مخکنی شرط دا دی چې اوسنی نظام او د اساسي قانون او لاس ته راوړنې ساتل او د طالبان د دولت سره یوځای ګډول غواړي، مګر د طالبانو مخکنی شرط د دولتي نظام او اساسي قانون بدولول دي او د خپل «اسلامي» امارت بیا جوړول غواړي.
- د رښتني او عادلانه ملي سولې مهم شرط د سولې د خبرو د پیل د پاره د جګړې د دواړو غاړو لخوا اوربند او د سولې د خبرو د اجندا اعلانول دي، مګر اوس روغې جوړې د پیل څخه د مخه د بندیانو خوشې کول او د دواړو له لوري جګړه دوام لري.
- د رښتني او عادلانه ملي سولې د استازو ټاکل د جګړو ځپلو خلکو او د پرګنو د کښتنی طبقاتو څخه شروع کیږي، او د منځګړیتوب د ډلې په ډول منځ ته راځي، مګر د اوسني روغې جوړې د خبرو استازي د دولت او طالبانو د ډلې چې د جګړې د ښکیلو ډلو خواوې دي، ټاکل شوي دي.
- د رښتني او عادلانه ملي سولې د مذاکراتو د بریالیتوب او همدا راز د سولې د ټینګښت لپاره د بیطرفه څارونکو او د معبرو کورنې او بهرنې تظمیناتو د لپاره جوړول دي چه د اوسنی روغې جوړې په خبرو کښې وجود نه لري.

د افغانستان د څلور لسیزو په جګړو کښې د روغې جوړې، د ګډو حکومتونو د جوړولو ژوندي مثالونه ډیر زیات دي، د دغو روغې جوړې حکومتونه څخه یو یې هم ندی توانیدلی چې قانوني ملي حکومت جوړ کړي او د جګړې اوربند او بریالي سوله هیواد ته راولي. یوه غوره او بشپړ لوی مثال یې د بن د کنفرانس د پریکړو پر بنسټ د «جهادي» بنسټپالو ډلو لخوا په افغانستان کښې د ګډ حکومت جوړیدل دي، دا حکومت د بهرنیانو په مرسته د ۲۰۰۱ میلادي په اخرو ورځو کښې جوړ شویدی، چې تر اوسه پورې هم دوام لري.
نولس کاله د مخه د ۲۰۰۱ میلادي کال د اوکتوبر او نوامبر په میاشتو کښې د طالبانو حکومت د امریکې او ناټو د نظامي علمیاتو په ترڅ کښې د شمالي ټلوالو په مرسته را پرځول شویدی.د افغانستان په ټول معاصر تاریخ کښې د «جهادي» بنسټپالو او طالبانو ډلو ترحکومتونو څخه بل نور داسې زیات فاسد حکومت منځ ته ندی راغلی. حامد کرزی د خپل واک رسیدو ته د امریکې او ناټو د نظامي علمیاتو په واسطه هیڅ ډول اعتراض نلري، مګر د واک د رسیدو څخه وروسته د امریکې او ناټو پر نظامي علمیاتو همیشه اعتراض کوي؟
دا هغه کاذب او خودپرسته «جهادي» رهبران دي کوم چې د خپل ځان د واک رسیدلو ته د انسان د مرو پر جسدو تیریږي او د هیڅ ډول جنایاتو د سرته کیدو څخه هم ډډه نه کوي.



د روغې او جوړې د حکومتونو نور ژوندي او نژدې غوره مثالونه هم شته، څو کاله د مخه د ګلبدین د پاکستان پلوي ډلې او د افغان حکومت ترمنځ تړون شویدی، د اشرف غني او عبدالله عبدالله تر منځ دوه ناکامه ګډ حکومتونه هم جوړ شویچې یو يې هم یو هم بریالي نه دي. د روغې جوړې د ګډو حکومتونو لوی مشکل دادی چې روغه د ډلو پر ګټو ولاړ دي، دا حکومتونه د هیواد ملي ګټو ته ژمن نه دي. دغه ډول ګډ حکومتونو نه دا چې یواځې سولې ته نه رسیږي، بلکه د ډلو رهبرانو د خپل خاص شخصي ګټو لپاره د رښتني سولې د رسیدلو پر لارو باندې نه پخلا کیدونکې لوی خنډونه جوړوي. ښکاره او د شرمه څخه ډک یو مثال یې د عبدالله عبدالله ایران پلوه ډله ده چې یواځې دغولولو لپاره په ظاهره خاندي او نور نو د سولې و لارې ته توطئې او خنډونه جوړه وي.

روغه جوړه د یو او یا څو ډلو له خوا د حکومت سره د اختلافاتو د لری کولو لپاره منځ ته راځی، چی د دی خبرو اصلی برخه او هدف یی د حکومت د واک ویش او د ډلو او حکومت تر منځ د خاصو غوښتنو د لاس ته راوړنو لپاره سره خبری کوی، چی د دواړو خواو د خاصو غوښتنو د منلو په صورت کښی دوی به نور جګړه نه کوی. په روغه جوړه کښی یواځی د محدودو ډلو او حکومت د استازو تر منځ د خپلو خاصو غوښتنو په هکله پخپل منځ کښی پریکړی کوی. په روغه جوړه کښی دا تظمین وجود نه لری چی د محدودو ډلو او حکومتونو پریکړي د سولی پړاؤ ته حتمی ورسیږی



**د** افغانستان «جهادی» افراطی ډلی او طالبان د پاکستان، ایران او اعرابو د بنسټ پالو ډلو په مرسته افغانستان د خپل ځان پلرنی مطلق میراث بولی. د افغانستان نور وګړی د افغانستان د سیاسی رهبری په چارو کښی حق نه لری. که چیری یو افغان «جهادی» ډلو سره اړیکی ونه نلری، او وغواړی چی د افغانستان په سیاسی هلو ځلو لاس پوری کړی هرومرو د«جهادی» رهبرانو لخوا وژل کیږی. تر اوسه چی «جهادی» رهبر پخپله هم ژوندی وی او یا مړ وی، د هغه «جهادی» رهبر پر ځای د ده زوی د رهبری په توګه ټاکل شوی دی.

برهان الدین او زوی یی صلاوالین، رسول سیاف، ملا عمر او او زوی یی ملا یعقوب، احمد شاه مسعود او زوی یی احمد د هغه پکول، حقانی او زوی یی، رشید دوستم او باتور دوستم، قسیم فهیم او دیب فهیم، محمد محقق او حسین محقق ګلبدین او زوی یی



جالبه خبره دا ده چی د دی «جهادی» رهبرانو ځای ناستی زامن هم ی د هغو بهرنی استخباراتو سره اړیکی لری کوم چی پلارونه یی هم د هغو استخباراتو سره کار کاوه، دا ځای ناستی زامن هم هلته کار کوی. د «جهادی» رهبرانو تاج ایښودل لوی مخترع حامد کرزی دی.

«جهادی» افراطی ډلی او طالبان د پاکستان او ایران په مرسته غواړی چی د زور له لاری په افغانستان کښی خپل «مذهبی» افراطی حکومتونه ولری. پاکستان او ایران د خًپل مزدورانو تر شا ځکه ولاړدی چی د دوی په مرسته غواړی د افغانستان په دولت کښی قدرت ولری که وشی کولای افغانستان وران او نابود کړی.

**پاکستان او ایران په نړی کښی د نړی د تروریستاتو د روزنی ځاله او اصلی ځای دی.**

پای.



[د دغه لیکوال د نورو لیکنو لپاره، دلته کلیک وکړی](#)